د افغانستان بانک

د پولي سیاست لوی آمریت

میاشتنی راپور

د پولي سیاست او مالي چارو د خارنې د شاخصونو تغیراتو ته لنډه کتنه

کب1399

## لړلیک

**1. پولیسکتور** ........................................ 4
۱.۱د پولي زیرمو او په گردښت کې د پیسو د ودې راپور ........................................ 4
۱.۲خالصې نړیوالې شتمنۍ ........................................ 4
1.3 د بهرنیو اسعارو او د پانگه ایزو پانو لیلام ........................................ 5
۱.۴د ټکټاني لگښتونه ........................................ 10
۱.۵ د تبادلې نرخ ........................................ 10
2. حقیقی سکتور ........................................ 12
۳. بهرنی سکتور ........................................ 19
3.1 د جاري حساب بیلانس: ........................................ 19
3.1.1د توکو د حساب بیلانس: ........................................ 19
3.1.2د خدماتو د حساب بیلانس: ........................................ 20
3.1.3 د لومړنیو عوایدو حساب: ........................................ 20
3.1.4 د منځنیو عوایدو حساب: ........................................ 21
3.2 پانگیز حساب بیلانس: ........................................ 21
3.3 د تادیاتو د بیلانس مالي حساب: ........................................ 21
4. مالی سکتور ........................................ 23

## 1. پولیسکتور

### ۱.۱د پولي زيرمو او په ګردښت کې د پيسو د ودې راپور:


د پولي سیاست آمریت د پيسو غوښتنې اصلي او کنټرولارو ، د دولت مالي پروګرامونو (عوایدو او لګښت) ، اقتصادي ودې لر لید او په هیواد کې د قیمتونو د ټولیزې کچې له لارې د هېواد اقتصادي حالت ته په کتو د هېواد پیسو سیاستونه طرح کوي .

د پولي زیرمو (RM) کره مبلغ د مالي کال ۱۴۰۰ (۲۰۲۱) په پیل کې۹۹.۲۵۵،۳۵۲ملیونه افغانۍ ثبت شوی دی ،

او د کب میاشتې په پای کې یې کره مبلغ۳۱۶۳۴۸.۲۹ملیون افغانۍدی چې د مالي کال له پیل څخه تر اوسه بیا ۱۰.۱۹سلنه منفي وده څرګندوي .

سربېره پردې ، د افغانستان بانک وتوانېدو په بریالیتوب سره په ګردښت کې پیسې (CiC) اداره کړي. د روان مالي کال په پیل کې په ګردښت کې ټولې پیسې ۳۴۱.۳۸،۲۹۳ملیونه افغانۍ وې او د کب میاشت په پای کې بیا ۲۸۵،۰۰۳.۰۲ملیونه افغانۍ وې چې۲.۸۴سلنه منفي وده ښيي.

لاندې ګراف د مالي کال۱۴۰۰ (۲۰۲۱) په جریان کې RM او CIC ښيې





سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

### ۱.۲خالصي نړیوالي شتمنی

خالصې نړېوالې شتمنۍ(NIR) راټولول، کوم چې د ملی اقتصاد د لوی اقتصادي شاخص په توګه پېژندل کیږي ، د هیواد په مالي سیستم کې یوه له ترټولو لویه لاسته راوړنه ده. د NIR راټولول پرته له شک څخه د پولي سیاستونو غوره پلي کولو او د د لوی اقتصاد شاخصونو لکه د تبادلې نرخ ، انفلاسیون او تادیاتو بیلانس د تعادل د ثبات ساتلو باندې مخامخ اغیز لري .

د ۱۴۰۰مالي کال (۲۰۲۱) په پیل کې ، د افغانستان NIR کره اندازه۸،۳۹۹.۲ملیونه ډالر ټاکل شوي وه مگر د NIR د بازار په نرخ حقیقي اندازه د کب په پای کې ۸،۱٤۷.٦۸ملیون ډالرو ته رسیږي، چې د۲۵۱.۵۱ملیون ډالرو کموالی ښیي.

د NIR وده په لاندې گراف کې وړاندې کیږي:




سرچینه: دبازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## 1.3 د بهرنیو اسعارو او د پانګه ایزو پانبو لیلام


د نغدوالي د کنټرول لپاره ، د ډالرو عرضه کول په اقتصاد کې د افغانۍ د تبادلې د نرخ ډیر بدلون راکموي ، د افغانستان بانک په اونۍ کې درې ځله د ډالرو لیلام او یو ځل د پانګه ایزو پاڼو د لیلام له لارې خپله موخه له نږدې اداره کوي چې دا دوه وسیلې دي او د ازاد بازار عملیاتو له لارې عملي کیږي . د تفصیل لپاره هر وسیله په لاندې توضیحې کیږي.

### د بهرنیو اسعارو لیلام

د ۱۴۰۰(۲۰۲۱)مالي کال له پیل راهیسې د کب تر پای پورې ، د افغانستان بانک د آزاد بازار د عملیاتو له لارې ټول ټال۵۰۳.۹۳ملیونه امریکایي ډالر لیلام کړي او له بازار څخه یې ۳۸.۸۶ملیارده افغانۍ راټولې کړي دي. د آزاد بازار په عملیاتو کې د اسعارو (په ځانګړې توګه د متحده ایالاتو ډالر) د ټول غوښتنې۲۸.۳۰سلنه پوره کړې. په ۱۴۰۰ مالي کال کبد

افغانستان بانک له تجارتي بانکونو له لارې۶۹ مليونه ډالر د افغانستان برېښنا شرکت باندې پلورلي دي او په مقابل کې يې ۵.۳۰ملیارده افغانی را ټولې کړې.

لاندې جدول د تیرو ۱۳ کلونو په جریان کې د بهرني اسعارو غوښتنې او عرضه ښيي.





سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## د پانگه ایزو پاڼو لیلام

د افغانستان بانک په بازار کې د نغدوالي د کنټرول،د بانکوالۍ سکتور کې د اضافه نغدوالي مخنوی، د تضمینونو لپاره منځني بازارونه رامینځته کول، د تبادلې په نرخ کې د ثبات ساتلو ، د پولي سیاست وسایلو ډیربښت رامینځته کول ، او سوداګریز بانکونه هڅول څوخپلې ټولې چارې په افغانیو ترسره کړي نو د افغانستان بانک په همدې موخه د پانگه ایزو پاڼو له لیلام څخه کار اخلي .


د ۱۴۰۰(۲۰۲۱) مالي کال له پیل څخه د کب د میاشتې تر پایه پورې ، د پانگه ایز پاڼو نه ترلاسه شوې ونډه **۴۴.۶۳**ملیارده افغانیو ته رسیدلي او په عین حال کې د یاد شوي پاڼو ټولټال سود د دې میاشتې په پای کې**۴۱.۰۳**ملیونه افغانیو ته رسیدلی. لاندې شکل د مالي کال ۱۴۰۰(۲۰۲۱) د کب میاشتې تر پای پورې د ۱۰ کلونو په جریان کې د پانگه ایز پاڼو نهترلاسه شوېونډهروښانهکوي.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۷ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې


د کب میاشتې په پای کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام د۱سلنهمنځني سود سره ۱.۲۵ملیارده افغانیو ته رسیدلې. نه ترلاسه شوې برخې د دې مودې لپاره۱.۲۵ملیارده افغانۍ دي.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت.

## ۲۸ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې


د ارزول شوي مودې په پای کې د ۲۸ ورځنۍ پانګه ایزې پاڼې لیلام په اوسط ډول د ۱.۳۲سلنه سود او ۰.۸ملیارده افغانۍ په ارزښت وړاندې شوې دي اوټولټال نه ترلاسه شوې ونډه ۱.۸ملیارده افغانۍثبت شوه.




سرچینه: د بازار عملیات / پولي سیاست آمریت

## ۹۱ ورځنی پانګه ایزې پاڼې


د ارزول شوې مودې په پای کې د ۹۱ ورځو لپاره د پاڼو لیلامپه اوسط ډول د۱.۷۶ سلنه سود او۰.۷ملیارده افغانیوپه ارزښت وړاندې شوی دی اوټولټال نه ترلاسه شوې ونډه ۱.۶۵ملیارده افغانی ثبت شوه.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۱۸۲ورځنۍ پانګه ايزې پاڼې


د دې راپور چمتوکولو د مودې په پای کې د افغانستان بانک د ۱۸۲ ورځو لپاره د پاڼو ليلام۱.۰ملیارده او اوسط سود ۲.۰۵سلنې و او ټول ټالنه ترلاسه شوې وندیه يې ۱۸۵ملیارده افغانیو ته رسیږي.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

## ۳۶۴ ورځنۍ پانګه ايزې پاڼې


د دې راپور ورکولو په جریان کې د افغانستان بانک د ۳٦۴ ورځو لپاره د پاڼو لیلام د کب میاشتې په پای کې ۱.۲۵ملیارده افغانۍ وچې منځني ډول د۴.۱۰ سلنه سود او او نه ترلاسه شوې وندیه يې۳۸.۰۸ملیارده افغانیو ته رسیږي.




سرچینه: د بازار عملیات / د پولي سیاست آمریت

### ۱.۴د ټکټاني لګښتونه


د افغانستان بانک د تیرو ۱۲کلونو په جریان کې د مالي کال ۱۴۰۰ (۲۰۲۱)د کب میاشتې پورې د پانکه ایز پاڼو لپاره ټکټانې تادیه کړې دي چې ارقام یې په لاندې ډول ښودل شوي دي.




### ۱.۵ د تبادلې نرخ

مرکزي بانک په بازار کې د اسعارو نرخ نه په نبنه کوي. په هرصورت ، په نورو لوی اقتصادي شاخصونو د دې د پام وړ اغیزو په پام کې نیولو سره ، د افغانستان بانک د تبادلې نرخ چلند له نږدې څاري ترڅو د دې شدید بدلونونو مخه ونیسي. د معلوماتو ته په کتو ، د افغانۍ تبادلې نرخ د نړۍ د مهمو اسعارو په وړاندې یو څه بدلونونه ثبت کړي دي.

د ۱۴۰۰ مالي کال له پیل راهیسې افغانۍ د ډالر په مقابل کې۰.۱۱سلنه ارزښت له مخې کموالی ښودلی دی ، او په منځني ډول ډالر په۷۷.۲۶ افغانۍ تبادله شوې او د کب په پای کې ۷۷.۱۹تبادله شوې.



په ۱۴۰۰ مالي کال کې د امریکایی ډالر پروړاندې د افغانۍ تبادلې نرخ
۷۹
۷۸
۷۷
۷۶
۷۶
۷۵
۷۴
۷۷.۱۹
۸ مرغومی...
۲۸ سلواغه...

د پولي شاخصونو جدول

| شاخصونه | 1399 مالي کال | | | | | | 1400 مالي کال | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مرغومی | سلواغه | کب | غبرګولی | وږی | لیندۍ | مرغومی | سلواغه | کب |
| د پولي زیرمو تاکلی هدف(٪) | ۱۲ | | | | | | ۱۱.۸۰ | | |
| د پولی زیرمو حقیقي وده(٪) | -۸.۸ | -۸.۲۵ | -۸.۰۰ | ۰.۴۲ | ۱.۸۲ | ۹.۶۸ | -۷.۹۶ | -۸.۰۳ | -۱۰.۱۹ |
| د پولی زیرمو حقیقي وده( ملیون افغانۍ) | ۲۹۳,۳۸۵.۹۴ | ۲۹۵,۰۹۶.۹۷ | ۲۹۵,۲۲۴.۵۲ | ۳۲۲۹۷۸.۲۷ | ۳۲۷۴۷۳.۸۰ | ۳۵۲۷۵۵.۷۸ | ۳۲۴۲۱۲.۱۹ | ۳۲۳۹۸۶.۶۷ | ۳۱۶۳۴۸.۲۹ |
| د پولي زیرمو تاکلې موخه ( ملیون افغانۍ) | ۳۲۴,۸۵۴.۰۹ | ۳۲۸,۰۷۹.۱۹ | ۳۳۱,۰۳۹.۹۴ | ۳۴۰۸۷۳.۸۵ | ۳۵۰۷۰۷.۷۷ | ۳۶۰۸۶۷.۷۲ | ۳۵۵۶۷۲.۳۹ | ۳۵۹۰۸۸.۷۹ | ۳۶۲۵۰۵.۱۹ |
| ګردښت کې پیسو حقیقی وده ( ملیون افغانۍ) | ۲۵۷,۹۲۳.۲۱ | ۲۵۸,۸۴۵.۸۷ | ۲۵۹,۳۰۲.۱۲ | ۲۷۹,۹۸۹.۸۹ | ۲۸۳,۴۳۸.۲۲ | ۲۹۳,۳۴۱.۳۸ | ۲۸۷,۱۵۳.۱۰ | ۲۸۶,۹۳۴.۵۹ | ۲۸۵۰۰۳.۰۲ |
| د ګردښت پیسو تاکلې موخه ( ملیون افغانۍ) | ۲۶۲,۴۸۳.۴۹ | ۲۶۵,۶۱۷.۰۱ | ۲۶۶,۹۳۸.۶۳ | ۲۷۴,۸۶۸.۳۴ | ۲۸۲,۷۹۸.۰۶ | ۲۹۷,۴۷۴.۴۳ | ۲۹۵,۷۵۲.۴۱ | ۲۹۸,۱۶۳.۴۳ | ۳۰۰۵۷۴.۴۶ |
| په نړیوالو زیرمو کې حقیقي وده (ملیون ډالر) | ۷,۸۹۲.۵۹ | ۷,۸۶۰.۸۰ | ۷,۷۱۱.۸۵ | ۸,۱۲۸.۷۸ | ۸,۳۳۴.۴۰ | ۸,۳۹۸.۱۱ | ۸,۲۰۶.۹۴ | ۸,۱۸۴.۳۴ | ۸۱۴۷.۶۸ |
| په نړیوالو زیرمو کې تاکلې موخه (ملیون ډالر) | ۷,۹۷۹.۲۵ | ۷,۹۶۴.۵۱ | ۷,۸۴۶.۰۷ | ۷,۹۱۹.۴۱ | ۷,۹۱۹.۴۱ | ۷,۸۱۹.۰۰ | ۸,۳۲۵.۵۷ | ۸,۲۵۱.۹۵ | ۸۱۷۸.۳۳ |
| د پانګه ایز پانو ناترلاسه شوې برخه | ۳۰,۸۷۰.۰۰ | ۳۰,۶۷۰ | ۳۰,۴۵۵ | ۳۴,۴۹۵ | ۳۹,۵۹۰ | ۴۶,۴۰۰ | ۴۶,۸۶۰ | ۴۴,۹۷۵ | ۴۴۶۳۵.۰۰ |
| اجباري زېرمې (لازمي زېرمې) ملیونونه افغانۍ | ۶,۵۲۷.۲۰ | ۶,۰۲۷.۵۳ | ۵,۹۲۸.۷۵ | ۶,۲۷۱.۶۷ | ۶,۹۱۴.۳۶ | ۷,۳۱۴.۹۸ | ۸,۱۴۰.۸۵ | ۸,۲۶۰.۶۴ | ۸۰۵۶.۰۵ |

## 2. حقیقی سکتور

### د پیسو تېولیز پړسوبدکلنۍ محاسبې پر بنسټ سلواغې میاشت کې بدلون ښکاره کوي.

د پیسو تېولیز پړسوب کچه د 1399لمریز لیږدیز کال دکلنیبدلونونو پر بنسټ دسلواغېپه میاشت کې زیاتوالیکړی دی. دمصرفي توکو تولیزپیسو پړسوب له 4.11سلنې 4.13سلنې پورې بدلونځرګندوي. دازیاتوالیدغېرخوراکیتوکو دقیمتونو دزیاتوالی نه سرچېنه اخیستې ده، چې تولیز شاخص یې تر اغېزیلاندې نیولی دی.

**1-جدول عمومی پړسوب د هیوادپه کچه**

| دپیسو پړسوب د هېواد په کچه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| توکي | کلنی بدلون | | میاشتینی بدلون | |
| | مرغومی1399 | سلواغه 1399 | مرغومی1399 | سلواغه 1399 |
| **ټولیز پړسوب** | **4.11** | **4.13** | 0.26 | **-0.52** |
| خوراکي توکي او غیر الکولي څښاک | 6.10 | 5.32 | 0.20 | -0.72 |
| غیرې خوراکي توکي ،تنباکو او چوپړتیاوې | 2.16 | 2.95 | 0.32 | -0.31 |

او له بلې خوا، څرنګه چې دمیاشتیني محاسبې پر بنست چې توپیرونه په لندمهاله توګه د ځیرنې لاندې نیول کېږي اوپه لنډ مهاله توګه بدلونونه ځیرې د دې محاسبې پر اساس له 0.26سلنې څخه تر 0.52-سلنې پورې دسلواغې په میاشت کې کم شویدي.

**دخوراکي توکوشاخص دکلنی بدلون پر بنسټ د ټیټ قیمتونو ښکارندوی دی.**

د احصائې او معلو ماتو ملي ادارې د وروستیو ارقامو د لاس ته راوړلو پر اساس دکلني محاسبې پر بنسټ د خوراکي توکو قیمت له 6.10سلنې نه5.32سلنې پورې کموالی څرګندوي . د دېکموالی اصلي لامل د (غوښه، لبنیات،وچې اوتازه میوې، سابه،مصاله جات او غیرالکولی څښاک ) دقیمتونو کموالیدی.

| **2-جدول :خوراکي توکي د پېسو پړسوب** | | | |
|---|---|---|---|
| توکي | ونډه (٪) | کلنی بدلون | میاشتنی بدلون |

| | | مرغومی 1399 | سلواغه 1399 | مرغومی 1399 | سلواغه1399 |
|---|---|---|---|---|---|
| **خوراکي توکو پړسوب او غیرې الکولي څښاک** | **47.8** | 6.10 | 5.32 | 0.20 | -0.72 |
| **ډوډۍ اوړه غلې دانې** | **14.6** | 8.69 | 8.92 | -0.51 | -0.18 |
| **غوښه** | **7.5** | 9.76 | 8.86 | 0.32 | -0.56 |
| **لبنیات(شیدی،پنیر،هگۍ)** | **4.7** | 5.95 | 3.33 | 0.90 | -2.26 |
| **غوړي** | **4.6** | 14.87 | 16.16 | 4.82 | 0.21 |
| **وچه او تازه میوه** | **5.0** | 2.64 | 1.65 | -1.33 | -1.03 |
| **سابه** | **6.0** | -3.73 | -6.78 | -0.30 | -1.91 |
| **خواړه** | **2.7** | 5.60 | 6.25 | -0.49 | -0.12 |
| **مصاله** | **1.3** | -5.02 | -6.85 | -1.06 | -1.18 |
| **غیرې الکولي څښاک** | **1.4** | 3.05 | 2.17 | -0.18 | -0.49 |

**د خوراکي توکي شاخص د میاشتینیمحاسبې پر بنهست سلواغې په میاشت کې کموالیښکاره کوي**

د خوراکي توکو شاخص په برخه کې دمیاشتیني بدلون معیار پربنسټدمرغومي میاشت کې 0.72-سلنې ته رسیدلی دی، حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې 0.20سلنه سنجش شوی وو. داکموالیدخوراکي تو کو اجزاوولکه (غوښه ،لبنیات،غوړي ،سابه ، مصاله جات او غیر الکولی څښاک ) دقیمتونو له امله را منځ ته شوی دی

**غوښه** په ټولیز شاخص کې 7.5سلنه ونډه لري،د کلني محاسبې پر بنسټ 9.76سلنې تر 8.86سلنې پورې دسلواغې په میاشت کې کموالی موندلی دی. او همدا راز دا بدلون د میاشتیني محاسبې پر بنسټ چې(په لند مهاله توگه)څېړل کیږی له 0.32سلنه تر 0.56-سلنې پورې کم شوی.

ددې شاخص دقیمتونو کمیدلو اصلی لامل د روان کال په اوږدو کې په ټول هیواد کې دکبانو د تولید 350 فارمونه جوړیدل دې چې د کبانو تولید په کچه کې زیاتوالی راغلی .سږ کال دڅیړنې په میاشت کې د تیر کال په پرتله 1500 ټنه دکبانو په تولید کې زیاتوالې ښکاره کیږی .او همدا راز په ننگرهار خوست ولایتونو کې د چرگانو فارمونو کی هم زیاتوالی راغلی دی. او د هیواد په بازارونو کې یاد شوی برخې ورکړه یې زیاته کړې اوددی شاخص بیه یې تراغیزی لاندی نیولې ده .همدا رنگه د گاونډیو هیوادونو څخه د چرگانو غیر قانوني وارداتو زیاتوالي ددې شاخص نرخ کمولو کې بل لامل گڼل کیږی .

**د وچې او تازه میوې**شاخص چې په ټولیز شاخص کې 5.0سلنه ونډه لري.دکلنی محاسبې پر بنسټ 1.65 سلنې ته رسیدلیدي،حال دا چې دا رقم په تیره میاشت کې 2.64سلنه سنجش شوی وو .له بلې خوا د میاشتیني محاسبې پر اساس ددې برخې دشاخص قیمت له 1.33-سلنې دمرغومي په میاشت کې تر1.03-سلنې پورې د سلواغې‌په میاشت کې زیاتوالیموندلی دی.دکلنې محاسبې پر بنسټ ،ددې شاخص بیې کموالی اصلی لاملونه په کندهار او غزنی ولایتونو کی دالو بخارا د حاصلاتو زیاتوالی او همدا رنګه په ننګر هار ولایت کې دسیتورس او فراه ولایت کې د انارو حاصل او په بدخشان ولایت کې دپستې په حاصلاتو کې 64 سلنه زیاتوالي دی چې داشاخص یې تر اغیزی لاندی نیولی دی.

3-جدول:غیرې خوراکي توکوپړسوب

| اقلام | ونډه (٪) | کلنی بدلون | | میاشتیني بدلون | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | مرغومی1399 | سلواغه 1399 | مرغومی 1399 | سلواغه1399 |
| غیرې خوراکي توکي تنباکو او چوپړتیاوې | **52.2** | 2.16 | 2.95 | 0.32 | -0.31 |
| سګرت او تنباکو | **0.3** | 4.97 | 5.35 | 0.47 | 1.00 |
| جامې | **4.6** | 6.93 | 5.51 | -0.03 | -1.18 |
| استوګن ځای | **19.1** | -0.28 | 2.16 | -0.14 | -0.81 |
| دکور سامانونه | **11.9** | 6.08 | 5.40 | 0.94 | -0.18 |
| روغتیا | **6.2** | 6.08 | 5.73 | -0.13 | 0.15 |
| ترانسپورت | **4.3** | -11.81 | -8.34 | 1.32 | 1.86 |
| مخابرات | **1.7** | -0.66 | -0.68 | -0.06 | 0.21 |
| اطلاعات و فرهنګ | **1.1** | 1.30 | 0.58 | -0.71 | -0.18 |
| ښوونه او روزنه | **0.4** | 5.48 | 5.08 | 1.14 | -0.35 |
| هوټل او رستورانت | **1.1** | -0.14 | -0.39 | -0.08 | -0.40 |
| متفرقه | **1.4** | 9.05 | 8.38 | 2.08 | -0.49 |

### غېرې خوراکي توکیکلنیپړسوب دسلواغه په میاشت کې زیاتوالی کړی دی.

**غېرې خوراکي**توکو شاخص چې د ټولیز شاخص 52.2 سلنه جوړوید۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال د سلواغې په میاشتکې زیاتوالی موندلی دی او 2.95سلنېته رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تېره میاشت کې2.16سلنه سنجش شوی وو. او دازیاتوالیاصلی لامل د تنباکو، کور،اوبو ،بریښنااو ګاز،ترانسپورت ،او رستورانت او هوتل د شاخصونو نه دبیېزیاتیدل ګڼل کېږي.

دمیاشتیني محاسبې پر بنسټ ددغېبرخې شاخص له 0.32سلنه دمرغومیپه میاشت کې تر 0.31-سلنې پورې دسلواغې میاشت کې کموالی کړی دی .

**کور،اوبو ،برېښنااو گاز**19.1 سلنه په ټولیز شاخص کې ونډه لري ، دکلنیمحاسبې پر بنسټ له 0.28- سلنېتر 2.16 سلنې پورې د 1399کال دسلواغې پهمیاشت کې زیاتوالی ښکاره کوي .لکه څرنگه چې گورو د دې برخې ونډه په ټولیز شاخص کې زیاته ده له همدې کبله دی چې هر بدلون په دې برخه کې په ټولیز شاخص باندې ډېره اغیزه لري،له بلې خوا د میاشتیني محاسبې پر اساس د دې شاخص قیمتد سلواغېپهمیاشت کې تر0.81-سلنې پورې رسیدلی ده. حال دا چې ددې شاخص قیمت په تېره میاشت کې 0.14- سلنه سنجش شوی وه.ددې شاخص دنرخ زیاتوالی اصلی برخه ،په نړیوال بازار کې د گازنرخ د تیر کال د ورته میاشت په پرتله لوړ شوی . همدا رنگه په هیواد کې د سړې هوا له امله دډبرو سکرو او مایع گاز مصرف لپاره دغوښتنې زیاتوالی اوورسره هم د اسلام قعله گمرک ته د اور لگیدوله امله د اولیه توکو بیه او همدا راز په خاصه توگه د گاز نرخ جگوالی وومومي .

دي .

**ټرانسپورت** چې دټولیز شاخص 4.32 سلنه جوړوي .دکلني محاسبې پر بنسټ د روان کال دسلواغېپه میاشت کې له 11.81- سلنې تر 8.34-سلنې پورې زیاتوالی موندلی دی.

او همدا راز .د میاشتیني محاسبې پر بسټ ،دا برخه د غیرې خوراکي توکو شاخص له 1.32سلنې تر1.86سلنې پوربزیاتوالی کړی دی.

ددې شاخص دنرخ زیاتوالی دنړیوال بازار له نرخونو سره تړاو لري،په نړیوال بازار کې د خامو تیلو بیه 12.65سلنه اوپطرولقیمت هم دتیر کال دهمدی میاشتېپه پرتله 11.4سلنه زیات شویدی. همدا رنگه په اسلام کلا گمرک کې داور لگیدلو له امله دیاد شوی شاخص دبیې لوړوالی لامل وگرځید .


## دهستې انفلاسیون (اصلي انفلاسیون)

په هېواد کې د هستې انفلاسیون کچه د د افغانستان بانک د پالیسو اغیزمنتیا د قیمتونو ټولیزې کچې باندې د کنترول ښکارندویي کوي. د دې معیار پربنسټ، د انفلاسیون د کچه بدلونونه چې غیر عادي عوامل لري او د کنترول نه هم بهر دي، په


شاخص کې په پام کې نه نیول کېږي د انفلاسیون دکچې زیاته برخه د فصلي بدلونونو او کله ناکله د غیرې عادي پیښنو له امله اغیزمنکیږي. استفاده کیږي. په دغه کړنلاره کې هغه اجزاوی چې په غېر عادي توګه قیمتیې بدلون مومي په شاخص کې ترنظر لاندې نه نیول کیږي تر څو پوربپه ټولیز شاخص باندې یې د اغیزې نه مخنیوی وشي .

د هستې انفلاسیون د معلومولو له معیارونو څخه یو یې هم د اوسط لنډیز (Trimmed Mean%30 ) دی. دغه معیار یو مشخصه برخه په نظر کې نیسي او د ساده لنډیز شاخص په اساس وروسته له نظر لاندې اجزاوېتر لرې کولو وروسته محاسبه کیږي .د دې معیار په اساس پیسو پړسوب د 1399لمریز لیږدیز کال دمرغومی پهمیاشت کې له 3.98سلنې تر 3.61سلنې پوربدسلواغې په میاشت کې کم شوی دی.

بل معیار د هستې تورم عبارت دی له**لګښتي توکو شاخص بې د ډوډۍ ،غوړي او ترانسپورت**څخه . چې پیسو پړسوب د دې معیار په اساس 3.14سلنې ته د سلواغې په میاشت کې رسیدلی دی حال دا چې دا رقم په تېره میاشت کې3.43سلنه سنجش شوی وو. د دې معیار له مخې د میاشتینې محاسبې پر بسټ له0.08سلنې تر0.74-سلنې پورې بدلون ښکاره کوي.



| دهیواد په کچه د هستېپړسوب بدلون | | |
|---|---|---|
| توکي | مرغومي | سلواغه |
| | کلنی بدلون پر بنسټ | |
| پیسو پړسوب  د خلاصه شوي اوسط (%۳۰)(لنډیز<br>(Trimmed mean | 3.98 | 3.61 |
| ټولیز شاخص د استوګن ځایونو،غلو دانو ،غوړیو او<br>ټرانسپورټ څخه پرته . | 3.43 | 3.14 |




## ۳. بهرنی سکتور

### 3.1 د جاري حساب بيلانس:

د راټول شويو ارقامو له مخی د ۱۳۹۹ لمریزلیږدیز کال په ځلورمه ربع کی د هیواد د تادیاتو د بیلانس د جاری حساب په کسر تقریباً ۸۴٦ میلیون امریکایی دالر ثبت شوی وه.

د کلني مقايسه له مخی، د هیواد د تادیاتو په جاری حساب کسر کی(په شمول د رسمی لیږدونو)د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال د تیر کال په پرتله ۱۷ سلنه کمښت ښودل شویده. د ۱۳۹۸ لمريز ليږديز کال د جاري حساب کسر چی تقريبا ۳۷۹۱.۹۴ ميلونه ډالره ثبت شوی وو، د ۱۳۹۹ لمريز ليږديز کال کې ۳۱۳۴.۱۲ میلونو ډالرو ته راښکته شويدي. د دې کسر د کمښت سبب، د نړیوالو په وړیا مرستو کی د ډیرښت، او همدا رانگه په خدماتي عوایدو کې د زياتوالی پايله ده.

#### 3.1.1د توکو د حساب بیلانس:

د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په آخره څلوريزه کی د توکو د حساب په کسر کی ۱۴ سلنه زیاتوالی ښودل شوي دي. چی ۱۲۵۹.٦۳ میلونو دالرو څخه چی د تیر کال په آخره څلوريزه کی ثبت شوی وه د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په ورته څلوريزه کی ۱۴۳۱.۵۸ میلونو دالرو ته را رسیدلی دي.

دکلینی مقایسی له مخی، د هیواد د توکو د حساب کسر د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال د تیرلمریز لیږدیز کال په پرتله ۴ سلنه کمښت راغلی، چی له ۵۲۹۴.۱۷ میلونو ډالور څخه چی په تیر کال کی ثبت شوی وه د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال کی ۵۱۰۲.۹۴ میلونه ډالرو ته را ښکته شویدی.

- ✓ په ټوله کې د توکو د واردات په ارښت کی تقریباً ۵ سلنه کمښت ښودل شوی ده.د توکو د وارداتو د کمښت اصلی لامل د کرونا ویروس ناوړه پایلی او همداراز د اقتصادی فعالیتونوکمښت په هیواد کی ښودل شوی ده.

- ✓ په همدې ډول د توکو په ټولیزو صادراتو کې د تیر لمریز لیږدیز کال په پرتله ۱۰ سلنه کمښت راغلی ده د دی کمښت اصلی خوځوونکي؛ د تازه میوو صادرات، د طبی ادویه جاتو صادرات او همداراز د قالینو په صادراتو کی د کمښت پایله ښود شوی ده.

### 3.1.2د خدماتو د حساب بيلانس:

د خدماتو د حساب کسر په ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال کی تقریباً د ۱۲ سلنی د زیاتوالی څرگندونه که یی، چی له ۱۰۹.۲۲ میلیونو دالرو څخه چی د تیر کال په آخیری څلوریزه کی ثبت شوی وه د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په ورته څلوریزی کی ۱۲۲.۱۲ میلونو دالرو ته رسیدلی دي.

اما د کلنی مقیسی له مخی په ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال کې د خدماتو د بیلانس په کسر کې ۲۸ سلنه کموالی راغلی. د خدماتو د بیلانس کسر چی تیر لمریز لیږدیز (۱۳۹۸) کال کې ٥٦٠.٨٦ میلونه ډالره ثبت شوي وو، په ۱۳۹۹ لمریزلیږدیز کال کې بیا دا کسر تقریباً۴۰۳.۹۲ میلونهډالرهتهرا ښکته شوي دي.

### 3.1.3 د لومړنيو عوايدو حساب:

د لومړنیو عوایدو د حساب په مازاد کی د ۱۳۹۹ لمریزلېږدیز کال په آخره څلوریزه کی د تیرلمریز کیږدیز کال د روته ربع په پرتله ۲۸ سلنه زیاتوالی ښودل شوی، او تقریباً ۴۴.۰۵ میلیونو دالرو ته رسیدلی، حال داچی دغه رقم د تیر کال په ورته څلوریزه کی ٦١.٠٧ میلونو دالره راپور ورکول شوی وه.

د کلنی مقایسی له مخی، د لومړنیو عوایدو د حساب ټول خالص عواید په ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال کې ،د تیر لمریز لیږدیز کال (۱۳۹۸) په پرتله ۳۸ سلنه کمښت څرگندوی. چې داکمښت له ۳۰٦.۹۰ میلنونو ډالرو څخه ۰۷.۱۸۹ میلونو ډالرو ته را رسیدلی دی.

### 3.1.4 د منځنيو عوایدو حساب:

دمنځنیو عایدو حساب (بلا عوضه مرستو او د کارګرو رالیږدونکي پیسي دي )په مازاد کی د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په آخره څلوریزه کی ۱۱ سلنه زیاتوالی را منځته شوی دي، چی له ۵۹۹.۴۳ میلیونو دالرو څخه چی د تیر کال په اخره څلوریزه کی ثبت شوی وو، د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په ورته ربع کی ٦٦۳.۱۰ میلیونو دالرو ته رسیدلی دی.

خو د کلنی مقایسی له مخی، په ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کې د منځینی عواید په مازاد کی د تیر لمریز لیږدیز کال په پرتله تقریباً ۲۴ سلنه زیاتوالی راغلی، چې له ۱۷۵٦.۱۹ میلونو ډالرو څخه ۲۱۸۱.٦٦ میلونو ډالرو ته زیات شوي دي.د منځینوی عوایدو د زیاتوالی لامل ۳۵ سلنه زیاتوالی د هیواد په بلاعوضو مرستو کی ښودل شوی دي. په عین وخت کی د خصوصی اشخاصو لیږدونی د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال کی د تیر لمریز لیږدیز کال په پرتله ۱۳ سلنه زیات شویدی چی له۵۰۴.۵۱ میلیونو دالرو څخه ۵۷۱.۹۱ میلیونو دالرو ته رسیدلی دی.

## 3.2 پانګیز حساب بیلانس:

په ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په آخره څلوریزه کی د تیر کال ورته څلوریز په پرتله  د تادیاتو بیلانس په پانګیزه حساب کی ٦ سلنه زیاتوالی ښودی شوی دی، چی له ۵۰۴.٦۸ میلونو دالرو څخه ۵۱۰.۷۹ میلونو دالر ته رسیدلی دی.

ولی د کلنی مقایسی له مخی،په ورته حساب کی د تیر کال په پرتله تقریباً ۳۷ سلنه کمښت راغلی ده،چې له ۱۱۹۳.۴۹ میلونو ډالرو څخه چی د تیر لمریزلیږدیز کال کی ثبت شوی وه په۱۳۹۹لمریز لیږدیز کال کې تقریباً ۷۵۲.۳۵ میلونه ډالرو ته رارسیدلی دی.

## 3.3 د تادیاتو د بیلانس مالي حساب:

د ارقامو له مخی د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال په آخره څلوریزه کی د تیر کال په ورته موده کی د تادیاتو بیلانس په مالی حساب کی تقریباً ۳۰۷ میلونه ډالره د دارایی (شتمنی) په توګه ثبت شوی دی، حال داچی دا رقم د تیر کال په ورته موده کی تقربآ ۱۱ میلونه ډالره ثبت شوی وو.

اما د کلنی مقایسی له مخی په ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال کی ۵۸۳.۵۷ میلونه امریکایی ډالره د دارائی (شتمنی) په توګه راپور ورکول شوي، چی د تیر کال په پرتله ۵۲۳.٦۴ میلونه ډالره ډیروالی ښیي.

د خالصوشتمنیودزیاتوالی اصلی علت د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال کی په بهرنیو پانکونوکی زیاتوالی او همدا راز په ذخیروی شتمنیو کی زیاتوالی ښودل شوی دی.

3.3.1 مخامخ بهرنی پانگونه: د ارقامو له مخی د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال کی ۲۴.۳ میلونه امریکایی ډالره د دارائی په توګه د بهرنی پانګونی په برخه کی ثبت شوي ووه. حال دا چی دا رقم تیر کال ۲.۹۲ میلونه امریکایی ډالره راپور ورکول شوي ووه.

- ✓ مخامخ بهرنی پانګونه د هیواد نه بهر (شتمني) له ۲۶.۳۲ میلونو دالرو څخه چی د تیر لمریز لیږدیز کال کی ثبت شوی وو، د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال کی تقریباً ۳۷.۲۳ میلونه ډالرو ته زیات شوی

- ✓ همدا راز مخامخ بهرنی پانګون د ننه په هیواد کی مخ په ښکته میلان ښودلی دی. چی له ۲۳.۴۰ میلونو ډالرو څخه چی د تیر لمریز لیږدیز کال کی ثبت شوی وه د روان لمریز لیږدیز کال کی ۱۲.۹۷ میلونو ډالرو ته رسیدلی دی دی.

3.3.2په ارزښت لرونکو پاڼو کې پانګونه: په ارزښت لرونکو پاڼو کې پانګونه ۱۳۹۸ لمریز لیږدیز کال کې ۱۴.۶۲ - میلونه ډالره وه، د ۱۳۹۹ لمریز لیږدیز کال کې دا پانګونه ۶۳.۲۴ میلونو ډالرو ته زیاته شوې ده.

جدول.۱ : د افغانستان د تادیاتو بیلانس په (میلیون امریکایي ډالرو)


| ارقام/دوره | کال ۱۳۹۵ | کال ۱۳۹۶ | کال ۱۳۹۷ | کال ۱۳۹۸ | کال ۱۳۹۹ | په سلنه کی تغیر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **جاری حساب** | **-۲۷۰۸.۴۶** | **-۳۵۵۴.۹** | **-۳۸۹۶.۸۴** | **-۳۷۹۱.۹۴** | **-۳۱۳۶.۱۲** | -۰.۱۷ |
| کریډت | ۴۹۴۵.۷۹ | ۴۷۲۲.۴۷ | ۴۵۴۳.۶۷ | ۳۹۵۳.۱ | ۴۲۳۷.۰۹ | ۰.۰۷ |
| ډېټ | ۷۶۵۴.۲۵ | ۸۲۷۷.۳۶ | ۸۴۴۰.۵۱ | ۷۷۴۵.۰۴ | ۷۳۷۳.۲۱ | -۰.۰۵ |
| **د توکو او خدماتوحساب** | **-۶۱۹۱.۴۶** | **-۶۸۰۳.۵۶** | **-۶۳۷۴.۳۸** | **-۵۸۵۵.۰۳** | **-۵۵۰۶.۸۶** | -۰.۰۶ |
| کریدت | ۱۱۳۶.۰۱ | ۱۱۵۲.۹ | ۱۶۰۹.۴۷ | ۱۵۱۵.۷۶ | ۱۴۷۶.۳۱ | -۰.۰۳ |
| دبت | ۷۳۲۷.۴۸ | ۷۹۵۶.۴۶ | ۷۹۸۳.۸۵ | ۷۳۷۰.۷۹ | ۶۹۸۳.۱۶ | -۰.۰۵ |
| **د توکو حساب** | **-۵۵۹۴.۹۸** | **-۵۹۳۲.۲۵** | **-۵۷۲۰.۶۴** | **-۵۲۹۴.۱۷** | **-۵۱۰۲.۹۴** | -۰.۰۴ |
| کریدت | ۶۱۴.۲۲ | ۷۸۳.۹۶ | ۸۷۵.۲۴ | ۸۶۳.۸۳ | ۷۷۶.۷۳ | -۰.۱ |
| دبت | ۶۲۰۹.۱۹ | ۶۷۱۶.۲۱ | ۶۵۹۵.۸۸ | ۶۱۵۸. | ۵۸۷۹.۶۷ | -۰.۰۵ |
| **دخدماتو حساب** | **-۵۹۶.۴۹** | **-۸۷۱.۳۱** | **-۶۵۳.۷۵** | **-۵۶۰.۸۶** | **-۴۰۳.۹۲** | -۰.۲۸ |
| کریدت | ۵۲۱.۸ | ۳۶۸.۹۳ | ۷۳۴.۲۳ | ۶۵۱.۹۲ | ۶۹۹.۵۷ | ۰.۰۷ |
| دبت | ۱۱۱۸.۲۸ | ۱۲۴۰.۲۴ | ۱۳۸۷.۹۷ | ۱۲۱۲.۷۹ | ۱۱۰۳.۴۹ | -۰.۰۹ |
| **د لومړنیو عوایدو حساب** | **۱۷۹.۵۵** | **۲۴۸.۳۲** | **۱۹۰.۷۳** | **۳۰۶.۹** | **۱۸۹.۰۷** | -۰.۳۸ |
| کریدت | ۲۳۹.۸۴ | ۲۹۹.۵۴ | ۲۸۹.۴۳ | ۳۵۲.۸۱ | ۲۴۰.۲۵ | -۰.۳۲ |
| دبت | ۶۰.۲۹ | ۵۱.۲۲ | ۹۸.۷ | ۴۵.۹ | ۵۱.۱۷ | ۰.۱۱ |
| **د منځنیو عوایدو حساب** | **۳۳۰۳.۴۵** | **۳۰۰۰.۳۴** | **۲۲۸۶.۸۱** | **۱۷۵۶.۱۹** | **۲۱۸۱.۶۶** | ۰.۲۴ |
| کریدت | ۳۵۶۹.۹۴ | ۳۲۷۰.۰۳ | ۲۶۴۴.۷۷ | ۲۰۸۴.۵۳ | ۲۵۲۰.۵۳ | ۰.۲۱ |
| دبت | ۲۶۶.۴۹ | ۲۶۹.۶۹ | ۳۵۷.۹۵ | ۳۲۸.۳۴ | ۳۳۸.۸۷ | ۰.۰۳ |
| **جاری لیږدونی (رسمی مرستی)** | **۳۰۳۲.۷۵** | **۲۶۱۳.۹۲** | **۱۹۵۰.۴۵** | **۱۳۳۱.۱۸** | **۱۷۹۸.۳** | ۰.۳۵ |
| کریدت | ۳۰۳۲.۷۵ | ۲۶۱۳.۹۲ | ۱۹۵۰.۴۵ | ۱۳۳۱.۱۸ | ۱۷۹۸.۳ | ۰.۳۵ |
| دبت | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **خصوصی لیږدونی** | **۴۲۲.۰۴** | **۵۵۴.۸۱** | **۵۰۱.۴۴** | **۵۶۹.۵۴** | **۵۳۱.۴۴** | -۰.۰۷ |
| کریدت | ۵۳۷.۱۹ | ۶۵۶.۱۱ | ۶۹۴.۳۲ | ۷۵۳.۳۵ | ۷۲۲.۲۳ | -۰.۰۴ |
| دبت | ۱۱۵.۱۵ | ۱۰۱.۳ | ۱۹۲.۸۸ | ۱۸۳.۸۱ | ۱۹۰.۷۹ | ۰.۰۴ |
| **پانګیز حساب** | **۱۲۹۲.۸۴** | **۱۳۰۵.۶۹** | **۱۳۱۴.۴۱** | **۱۱۹۳.۹۴** | **۷۵۲.۳۵** | -۰.۳۷ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کریدت | ۱۲۹۲.۸۴ | ۱۳۰۵.٦۹ | ۱۳۱۴.۴۱ | ۱۱۹۳.۹۴ | ۷۵۲.۳۵ | -۰.۳۷ |
| دبت | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **پانگیزی لیږدونی** | **۱۲۹۲.۸۴** | **۱۳۰۵.٦۹** | **۱۳۱۴.۴۱** | **۱۱۹۳.۹۴** | **۷۵۲.۳۵** | **-۰.۳۷** |
| کریدت | ۱۲۹۲.۸۴ | ۱۳۰۵.٦۹ | ۱۳۱۴.۴۱ | ۱۱۹۳.۹۴ | ۷۵۲.۳۵ | -۰.۳۷ |
| دبت | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **مالی حساب** | **٦۹۲.۴۸** | **۴۷۲.۴۱** | **۵۲۰.۱۵** | **۵۹.۹۲** | **۵۸۳.۵۷** | **۸.۷۴** |
| **مستقیمه پآنگونه** | **-۷۹.۵۹** | **-۴۰.۲۷** | **-۸۰.٦۳** | **۲.۹۲** | **۲۴.۲٦** | **۷.۳۲** |
| شتمنی | ۱۴.۰۱ | ۱۱.۲٦ | ۳۸.۸ | ۲٦.۳۲ | ۳۷.۲۳ | ۰.۴۱ |
| پورونه (مسولیت) | ۹۳.۵۹ | ۵۱.۵۳ | ۱۱۹.۴۴ | ۲۳.۴ | ۱۲.۹۷ | -۰.۴۵ |
| **غیر مستقیمه پانگونه** | **۹۹.۴۷** | **-۲۹.۵۷** | **۱۴۲.۷** | **-۱۴.٦۲** | **٦۳.۲۴** | **-۵.۳۲** |
| شتمنی | ۹۹.۴۷ | -۲۹.۵۷ | ۱۴۲.۷ | -۱۴.٦۲ | ٦۳.۲۴ | -۵.۳۲ |
| پورونه (مسولیت) | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | ۰. | |
| **متفرقه پانگونه** | **۳۰.۰۲** | **-۵۰.۱۲** | **۲۵۴.۰۹** | **-۲۹.۰۳** | **-۳۳۴.۱٦** | **۱۰.۵۱** |
| شتمنی | ۳۵.۷۳ | ۱۷.٦۵ | ۱۵۸.۷٦ | -۳۷.۲۱ | -۳۴.۸۹ | -۰.۰٦ |
| پورونه (مسولیت) | ۵.۷۲ | ٦۷.۷۷ | -۹۵.۳۳ | -۸.۱۸ | ۲۹۹.۲۷ | -۳۷.٦ |
| **شتمنیز زیرمی** | **٦۴۲.۵۸** | **۵۹۲.۳۷** | **۲۰۴.** | **۱۰۰.٦٦** | **۸۳۰.۲۳** | **۷.۲۵** |
| **خالصه تیروتنی** | **۲۱۰۸.۱۱** | **۲۷۲۱.٦۱** | **۳۱۰۲.۵۹** | **۲٦۵۷.۹۲** | **۲۹٦۷.۳۳** | **۰.۱۲** |


## 4. مالی سکتور

د مالي پالیسۍ اصلي موخه د عایداتو په راټولولو کې د دوامداره زیاتوالیراوړل دي،څو په تدریجي توگه، عادي او پرمختیایي لگښتونه چې له بهرنیو مرستو له لارې تمویلیږي،د بودجې تخصیص د افغانستان له ملي پرمختیایي ستراتیژۍ سره مطابقت پیدا کړي . سربیره پر دې، نورې موخې د عامه لگښتونو مدیریت ښه والی، د مالي پالیسي اصلاح کول، د مالی پالیسیو رامینځته کول، د شرکتونو، گمرکاتو او د مالیې آغیزمنتوب او اداره کول دي.

د 1400لمریز لیږدیزمالي کال له پیل څخه ټوله ملي بودجه 473.04 میلیارده افغانۍوه خو د تیر مالي کال بیا(1399) لمریز لیږدیزمالي کال 428.38 میلیارده افغانۍ وه، چې 44.66 میلیارده افغانۍ او یا د ٪10.43 ډیرښت څرگندوي . د1400لمریز لیږدیزمالي کال عادي یا عملیاتي بودجه 311.41 میلیارده افغانۍ او پراختیایي بودجه بیا 161.64 میلیارده افغانۍ اټکل شوې ده .




سرچینه: د مالیی وزارت/د پولی سیاست د آمریت محاسبه




د 1400لمریز لیږدیزمالي کال له پیل څخه ټول ملي عواید (کورنی سر چینې او بهرنی مرستې) 435.44 میلیارده افغانۍاټکل شوی خو د تیر مالي کال (1399) لمریز لیږدیز ّپه پیل کی 415.98 میلیارده افغانی اټکل شوی وه، چې د تیر کال په پرتله19.46 میلیارده افغانۍ او یا د 4.68٪ ډیرښت څرګندوي . په ورته وخت کښی له ټولو ملي عوایدو څخه، د ۱۴۰۰ مالی کال په ملی بودیجه کې د داخیلیسرچینو ټوله اندازه 216.50 میلیارده افغانی اټکل شو ې ده. پدې کې پر عایداتو مالیه ، سوداګر ی ، ګمرکونه ، فیسونه ، پاسپورتونه ، ریل پټلی عواید او نور ډیر څه شامل دي. او څه عواید د تیرو کلونو راټول شوي عوایدو څخه راځي.

کورنی سر چینې او بهرنۍ مرستې په خپل وار سره 216.50 میلیارده افغانۍ او 218.94 میلیارده افغانۍ اټکل شوې دی چی د تیر کال (1399) لمریز لیږدیز پرتله کورنی عواید 7.6 اویا هم ٪3.64 میلیارده افغانۍ ډیرښت څرګندوي، همدغه راز د 1400لمریز لیږدیزمالي کال په پیلکی په بهرنیو مرستو کی هم 11.86 میلیارده یا ٪5.73 ډیری ښو دل شوی.

د نړیوالې ټولنې بالعو ضه مر ستې (تمویل کوو نکي ) په ټوله کې 218.94 ملیارده افغانۍ وړاندوینه شویده، چی د موسساتو او دمرسته کوو نکي هیوادونو لخوا چی د دولت دپرمختیایي پروګرامونو دپیل کولو اوهمدارنګه یوه برخه یې دامنیتي لګښتونو په موخه استفاده کیږي. دا مر ستې د چاری لګښتونو لپاره د ۱۴۰۰ مالی کال په پیل کی 107.14 میلیارده افغانی ځانګړی شوی او په تیر مالی کال 1399دچاری لګښتونو لپاره 91.95 میلیارده افغانی وی چی ٪16.52 یا 15.19 ډیروالی په ګوته کوی.

دپرمختیایي پروګرامونو مر ستې چی د ۱۴۰۰ مالی کال په ملی بودیجه کښټوله اندازه 111.80 میلیارده افغانۍ اټکل شو ې ده تیر مالی کال1399 په پیل کی 115.13 میلیارده افغانی اټکل شوی، په دو برخو ویشل شوی، اختیاری مر ستې چی 39.70 میلیارد افغانی دي، د تیر کال په پر تله ٪0.43 یا 0.17 میلیارد او غیر اختیاری مر ستې چی 72.10 میلیارد افغانی دي د تیر کال په پر تله ٪0.43 یا 3.16 میلیارد افغانی لږوالی څرګندوي چی ټول ټال دپرمختیایي پروګرامونو مرستو کی ٪0.43 یا 3.16 میلیارد کموالی راغلی.

ټول حقیقی عواید (کورني عواید او بهرنۍ مرستې) د 1400 لیږدیز مالی کال له پیل څخه تر کب میاشتې پای پورې55.31 میلیارده افغانی ته رسیدلې ده، چې ده دي جملې څخه کورني عواید 38.09 میلیارده افغانۍ او بهرنیو مرستی 17.22 میلیارده افغانی ته رسیږي.

کورني عواید د کب په میاشت کې ډیروالیپه نښه کوي، چې له 14.30 میلیارده افغانیو څخه د د کب په میاشت کې تر10.81 میلیارده افغانی د سلواغه میاشت کی. دا بدلون د3.49میلیارده افغانۍ او یا د٪32.30ډیرښت څرګندوي.همدغه رنګ د کب په میاشت کی په بهرنیو مرستو کی لږوالی راغلی ده، چی ټوله بهرنۍ مرستې له 7.82میلیارده افغانۍ دکب میاشت کې دی ، همدارنګه 9.25 میلیارده افغانۍ د سلواغه په میاشت که وی . چې د 1.43 میلیـــارده افغانۍ او یا د٪ 15.45 لږوالیپه ګوته کوی.

په ورته وخت کې، ټول لګښتونه د 1400 لیږدیز مالي کال تر کبمیاشتی پای پوری37.63میلیارده افغانیو ته رسیدلی دي چې له دې جملې څخه،چاري لګښتونه33.64 میلیارده افغانۍ او پراختیایي لګښتونه3.993میلیارده افغانیو ته رسیږي.

چاری لګښتونه د کب په میاشت کی 17.41 میلیارده افغانی دی، چی د سلواغه په میاشت کی13.62میلیارده افغانی وی، دا بدلون د3.79میلیارد افغانی ٪27.82ډیرښت په نښه کوی. همدا رنګه پراختیایی لګښتونه د کب په میاشت 1.986میلیارده افغانی دي چی د سلواغه په میاشت کی 2.004 میلیارده افغانی وی چی د کب میاشتی په پرتله 0.02 میلیارده افغانی او یا د ٪0.86کمښت څرګندوی.

| ځانګړنه | د سلواغه میاشت او 1400 مالی کال | د کب میاشت او 1400 مالی کال | د 1400 مالی کال له پیل څخه د کب میاشتی پوری | توپیر ( د سلواغه او دکبمیاشتو کې) | میاشتني وده (٪) |
|---|---|---|---|---|---|
| | د افغانی شمیرنه په ملیاردونو | | | | |
| ټول عواید | 20.05 | 22.11 | 55.31 | 2.06 | 10.29% |
| کورنی عواید | 10.81 | 14.30 | 38.09 | 3.49 | 32.30% |
| بهرنی عواید | 9.25 | 7.82 | 17.22 | (1.43) | -15.45% |
| ټول لګښتونه | 15.63 | 19.40 | 37.63 | 3.77 | 24.14% |
| چاری لګښتونه | 13.62 | 17.41 | 33.64 | 3.79 | 27.82% |
| پراختیایي لګښتونه | 2.004 | 1.99 | 3.99 | (0.02) | -0.86% |